# په "زېرے" کښې د ښځې تشکیل کړےشوے کردار

# Description of the Character of Women by Sayeda Bushrα Begam in Her Book "Zeray"

طارق خان *

شوکت علي **

**Abstract**

The twentieth century is well known for different movements which changed the world political and social scenario. It gave birth to the emergence of the khudai khidmatgαr movement famous for its political struggle in the Sub Continent. Sayeda Bushrα Begam was an active member of khudai khidmatgαr movement who also contributed in the struggle for independence in British era unveils the general status of Pashtūn woman in colonial period in her book"زېرے". In this paper, an attempt is made to present her thoughts and feelings about the Pashtūn women in that period of history.

**Keywords:** Sayeda Bushrα Begam; khudai khidmatgαr movement; *Zeray; Pashto Literature; Women.*

شلمه پېړۍ په ریښتنې معنې د قامونو د ازادۍ ، بېدارۍ د نو ابادیاتو خلاف د مبارزې،قامپرستۍ ، روښان فکرۍ ، طبقاتي مبارزې ، ادبي او سائنسي بدلون پېړۍ ګڼلے شي د شلمې پېړۍ په پېل کښې د پښتنو په خاوره باندې خدائي خدمتګار تحریک ظهور کوي او د ځان سره هغه ټول مقاصد او انقلابي توکي "Revolutionary tool's"راوړي کوم چې د دې تحریک انفرادیت ګڼلے شي نورلسمه اوشلمه پېړۍ د نا وېشلي هند او د پښتنو په خاوره باندې د نوابادیاتو پېړۍ تېره شوې، د فېرنګي د نوابادیاتو خلاف نه صرف پښتنو مزاهمت کړے بلکې د خپلې خاورې ، قام ، ژبې او ادب یو نه هېرېدونکے خدمت ئې هم کړے دے ۔خدائي خدمتګارتحریک د دغه مروج نوابادیاتي نظام جنګ، جمود محکومیت او ناروا رسمونو، رواجونو ، بدو په ضد یوانقلابي پروګرام درلود ، او په پښتنه ټولنه کښې ئې د دغه ټولو پچکاري شوو خرابو ، بدو او بداخلاقو

---

* پي ایچ ډي سکالر، پښتو څانګه، پېښور پوهنتون

** ایم فل سکالر، پښتو څانګه، پېښور پوهنتون

دپاره يو اصلاحي او متبادل پروګرام شروع کړو۔ په پښتنه ټولنه کښې د صنفي ټيټوالي او امتيازي سلوک په حواله هم دغه تحريک يو انقلابي موخه درلوده ، چې په دغه تحريک کښې د ښځو اشتراک او شموليت دا خبره ثابتوي چې په پښتنه خاوره باندې د تاريخ په اوږده ساحه کښې دې تحريک يو منظم "Feminist" رنګ هملرلو، او دې تحريک دغه زيلې صنف ته خپل شناخت او تشخص ورکړو ۔ ځکه چې په دغه زمانه کښې په ګڼ شمير کښې خدائي خدمتګارو سړو او ښځو ليکوالو خپل ليکونه په دغه حواله کړي او خپاره کړي دي –د دغه ليکوالونه يوه نامه د ښاغلي س-ب-ب ده چې پوره نوم ئې سيده بشرٰی بېګم ده ، د دوی د شاعرۍ کتاب "زېرے" نومېږي چې د دوی د فکرونظر او شاعرانه موضوعاتو هنداره ده ، دغه کتاب د يونيورستي بک ايجنسي پېښور له خوا ښاغلي فضل منان ميا په اول ځل په کال ۱۹۵۶ع کښې چاپ اوخپور کړو، دا کتاب په ۱۹۲ صفحو باندې مشتمل دے،پېشکشئې د خپل پلار ښاغلي مولانا ابوالمعاني ازاد ګل صاحب کاکاخېل روح ته کړے دے، او پېژندګلو پرې د دوی ورور ښاغلي محمد يوسف کاکاخېل ليکلې ده .

دوی د سيده بشرٰی بيګم د ځائے ژوند او خانداني پس منظر په اړه ليکي :

"همشيره په ادبي حلقو کښې په خپل مختصر نوم س- ب – ب پېژندے شي پوره نوم ئې سيده بشرٰی بېګم دے په ختهه کاکاخېله ده- په ۱۹۲۲ع کښې پېدا شوې ده–او د زيارت کاکاصاحب په پرفيضه خاوره کښې ئې خړپوسې کړېدي– همشيره په دې لحاظ دنصيبې مېرمن ده چې علمي کورنۍ کښې سترګې پرانستې دي- هسې هم د کاکاخېل قوم علمي کورنۍ دا سې ده چې د حضرت شيخ رحمکار صاحب د وخت نه ان تر دې وخته پورې علمي برکتونه او قومي خدمتونه ورته پېړۍ په پېړۍ په ميراث کښې پاتې شوې دي –زمونږ

پـلار مولانـا حکیمازادګـل صـاحب دادبـي دنیـا یوځلنـده ستورےؤ" (1)

د ښاغلې سیده بشرٰی بېګم خاندان او کورنۍ یو عامه یوه کورنۍ نه وه د هغوي علمـي ، مـذهبي ، دینـي، سیاسـي او قـومي خدمتونـه د چانـه پټ پنـاه نـه دي د هغوي پلار محترم په کال ۱۹۲۵عکښېد "افغان" په نوم یو علمـي مجله خپرولـه چې په پښتو او اردو دواړو ژبو باندې به چاپ کېدله ، دغسې د دوي پلار محتـرم شاعرانه ذوق هم لرلو، په دومره علمي او ادبي کورنۍ د دوي زېږون او د تربیت اثرات د دوي په ذاتي ژوند او صورت او سیرتکېدل بیا فطري خبره هم وه ـ د ښاغلې سیده بشرٰی بېګم شاعري ګڼ موضوعات لـري ، خو دلتـه مونږ د دوي دشـاعرۍ بنیـادي محـور او موضـوع تـه پاملرنـه کوو کـومې موضـوع چې ددوي فکروفن ته ځاګړتیا بخښلې ده او دغه موضوع ده"صنفي امتیاز"د د غـه موضـوع سره سم ښاغلې سیده بشرٰی بېګم ښځینه مسائلو ته په ډېر سنجیده نظر کتلي او د خپلو لیکنو بنیادي موضوع ئې ګرځولې ده –ددوي تعلق دپښتنې خاورې سره دے نوهغوي دې مسئلې ته دپښتنې ټولنې په خدوخال کښې څنګ ګوري؟ اوپـه مقامي کچه د دې مسلې په حواله دخلکوعام تاثرڅه ؤ؟دغه انځور مـونږ د هغـوي په شاعرۍ کښې ځائے په ځائے لیدلے شـو ، زمـونږ دغـه لیکوالـه د پښـتنو ښـځو دپاره څه غواړي او څه وئیل غواړي ؟ او د دوي دپاره دعوه او غوښتنه څه کـوي ؟ په دغه دور دې کښې دغه لوټلي او زیلي جنس څه خدوخال لرو ؟ کوم دور ته چې د تاریخ لیکونکي د فېرنګي سامراج د بادشاهت دوره (British Colonial Period) وائي ، په دغه دورکښې عموماً پښتون اولس او خصوصاً ښـځې د ډېرو سـختو حالاتو نه تېرې شوې دي د دغه ظلم ، جبر، نو ابادیاتو او تشدد په ضـد پـه هنـد او خصوصاً په پښـتنه خـاوره د ازادۍ تحریـک ښـه پـه زور کښـې ؤ او ښـاغلې سـیده بشرٰی بېګم د دغه تحریک د ډېر ماشوموالي نه پلوي او ملګرې وه هغـه پـه خپـل یو شهکار نظم "د وطن مینه"کښې پښتنو مېرمنو ته د ننګ مړانې او د وطـن سـره د مینـــــــې او محبـــــــت ترانـــــــه داســـــــې زمزمـــــــه ده :

زمونږ په وینو دې تاره شي اوچ بوستان د وطن
یو ځل دې زار په معشوقې شي عاشقان د وطن
چې ترقي د قوم وطن د ځان زینت اوګڼو
خوب د غفلت نه د بیدارۍ شي زنان د وطن
نسلونه واړه ائینده به محبان وي د قوم
که په بیدارو پئیو لوي شي فرزندان د وطن
خوېندو د رب د پاره پاڅئ دا د بے وخت د همت
اوګورئ څومره دي قومونه محبان د وطن
ځائے د تعلیم دے ستا جولئ اے عزتمندې خورې
لوي هغه زوي کړه چې سبا شي سخندان د وطن
ذلت ، غربت ، جهل زمونږه د عمل شامت دے
راځئ چې پوئې کړو ځان په دې سود او نقصان د وطن
که په زېور د قومي عشق مونږه سینګار جوړ که خپل
دا مې یقین دے نور به اونه شي تاوان د وطن (۲)

سیده بشرٰی بیګم صرف د کور د ځلورو د یوالونو د ننه ژوند ته ارزښت نه ورکوي بلکې د خپل قام او وطن د ترقۍ او پرمختګ د پاره د ښځې وجود او کردار یو لازمي توکے ګڼي ، او د دوي په نظر دا هله کېدلے شي چې د وطن ښځې د غفلت د خوبه رابیدارې شي او همت وکړي ځکه چې د مور غېږ وړومبۍ درسګاه ده ، او هم د دغه خلکو سره د قام وطن راتلونکے مستقبل تړلے وي ، د سترو انقلابونو شاته د ښځو لاس وي دا خبره چا ښځې سمه کړې ده چې "که ښځه په یو لاس ځانګو ځنګوي نو په بل لاس دنیا ځنګوي" سیده بشرٰی بیګم د زنانو د پاره تعلیم لازمي ګڼي ځکه چې یو پوهه او زیرکه مور یو ښه نسل پیدا کولے شي ، د یو قام د ازادۍ ، بیدارۍ او خپلواکۍ د پاره اولے شرط ښه تعلیم وتربیت دے ، په عمومي توګه په دې مسله کښې د ښځو ډیر بنیادي کردار دے ، د دې خبرې نه هیڅ څوک انکار نه شي کولے چې د انساني ټولنې ارتقا او بقا د پاره چې د

ښځې د وجود شتون څومره لازمي دے هغه که د سړو نه سېوا نه دے نو کم خو هم نه دے ، د دې خبرې اعتراف زمونږ دغه لیکوالې بار بار کړے دے او دا یو فطري خبره هم ده ځکه چې د هر ساه لرونکے او هر جنس د ځان د بقا او سوکالۍ دپاره یو عمل کولو ته هم تیار وي او مسلسل د یو عمله تېرېږي هم ، دغسې ښاغلې سیده بشرٰی بېګم هم د خپلې شاعرۍ د لارې د خپل هم جنس د بقا پرمختګ او سوکالۍ خبره کوي د هغوي د شاعرۍ د موضوعاتو افادیت او ضرورت په خپل ځائے خو د هغوي د شاعرۍ د بینادي موضوع او محور په اړه دا څو کرښې قابل غور دي

"دا یوه فطري خبره ده چې هر جنس د خپل هم جنس ته زیاته توجه کوي ـ ځکه همشیرې هم زیاتوئیلد خوېندو په حق کښې کړې دي- د هغوي د شاعرۍ بنیادي موضوع د خوېندو تعلیمي ، تمدني او اخلاقي اصلاح ده ـ اکثر داسې سرخطونه دشاعرۍ په لحاظ ډېر خشک اوناصحانه ښکاري ولې په کوم خوند سره چې همشیرې دامسائل پېش کړیدي هغه د شعري خوبیو نه علاوه دخپل افادیت په لحاظ قابل غور نمونې دي"(۳)

ښځینه مسائلو ته نه صرف ښاغلې سیده بشرٰی بېګم پاملرنه کړېده بلکې دحل لاره اوهدف ئې هم په ګوته کړے دے ـ لکه"پښتون پلار ته!" د عنوان لاندې نظم کښې داسې ګویانه ده :

څه به جواب کړې که ایمان په خدائے قیامت لرې ته
د لور او ځوي په منځ کښې فرق د محبت لرې ته
ځوي د مالک شي د لکهونو لو محرومه پاتې
دا یا پښتو ده د پښتو رسم وغیرت لرې ته
خرڅ د تعلیم د ځوي دې اوکړو په زرګونو روپو
په لور تعلیم کول د په خیال سره ذلت لرې ته
فائده به ونه کړي یواځې د سړو په تعلیم

کــه خیــال د د قــوم د ترقــۍ او د عــزت لــرې تــه (۴)

ښاغلې سیده بشرٰی بیګم په ټولنه کښې دصنف په بنیاد غیرمساوي چلنته په ډېرښکلي انداز کښې اشاره کوي او هلک اوجینۍ دتعلیم اوتربیت دغه غیرمساوي سلوک ډېرښکلے انځوروي او ورسره داخبره هم په ډاګه کوي چې یواځې دسړوپه تعلیم وتربیت باندې نه وطن مخکښې تلے شي او نه قوم ترقي کولے لکه چې مخکښې وائي :

فائــده بــه ونــه کــړې یــواځې د ســړو پــه تعلــیم
کــه خیــال د قــوم د ترقــۍ او د عــزت لــرې تــه
د جهالــت پــه جــال کښــې لــوئې لونړــه څــه بــه اوکــړي
ورنــه څــه طمعــه د وطــن ،قــوم د خــدمت لــرې تــه
چې د بې علمۍ په جولۍ کښې وي لوئې شوے ماشوم
وایــم امیــد څــه د هغــه د لیاقــت لــرې تــه (۵)

دترقۍپرمختګ عمل صرف په یوجنس پورې تړل هیڅ څه علمي اوکره خبره نه ده په دغه عمل کښې دهرجنس خپله ونډه ویدزده کړې عمل کښې صرف دسړوته شرکت دارياوتوجوورکول سمه خبره نه ده په ټولنه کښې دغه امتیازي سلوک اود صنفي تیتوالي عملته څومره په ښکلي انداز کښې اشاره کوي ، دغه ناوړه عمل غندنه هم کوي اوپه نتائجوئې هم خبره کوي دپښتنې میرمنودپاره دتعلیم وتربیت غوښتنه کوي اوپه دغه کښې دقام او وطن دترقۍسوال هم دے هم په دغه نظم کښې مخکښې وائي :

راتلونکے نســل بــه زمــونړه وي همدغــه شــانوي
کــه دزنــانوبےعلمي داســې صــفت لــرې تــه
دې کښې شک نشته ښځې دي د هر وطن بیداري
د خپلــه لاســه دا زمــونږ خــوب د غفلــت لــرې تــه
د زنــانو پــه تعلــیم بــه ترقــي کــوي قــوم

کـه د دې خپـل قـوم سـره خُـب پـه صـداقت لـرې تـه
بس سـوال مـې دا د ے خیـال زمـونږه د تعلیـم او سـاتـه
قـومي همـدرده کـه پـه مـونږه شـفقت لـرې تـه (۶)

چرته چې په ټولنه کښې سخت پدرسري نظام (Rigid Patriarchy) وي او د یو کور دننه د زوي او لور ترمنځه فرق کېږي ، او دا عمل بیا یو کلتوري رنګ همواخلي نو دغه ناوړه ټولنیز عمل ته لیکواله اشاره کوي او د خپل صنف د تعلیم وتربیت او دهغې په افادیت هم خپله خبره کوي ـ ځکه چېدا اوږد محکومت له عمله په ټولنه کښې د موجود صنفي امتیاز (Gender Discrimination) ریښې او جرړې دومره قوي شوې وې چې ښځې ته د انسان په نظر هم نه کتل کېدل نو هلته د خپل جنس/صنف د حقوقو دفاع کول ګران کار هموي او دا عمل په ځان کښې یو انقلابي حرکت هم وي ـ د دغه مروجه غلط وروایاتو په ضد خبره کول د ښاغلې سیده بشرٰی بېګم کمال دے چې د دوي فکروفن ته ئې انفرادیت او ځانګړتیا بخښلې ده ـ کهځه هم د دوي ذاتي ژوند تر ځه خده د عامو ښځو غوندې ؤ خو خو د دغه قسمه عامو روایتي پابندو لکه مثال په طور سخته پرده چې په نوره اسلامي دنیا کښې ئې دا تصور او خدوخال نه وو دوي په شاعرۍ کښې د دغه مروجه پردې په ضد یو ډېر زبردست احتجاج هم کړے دے لکه چې وائي:

مـا پـه ایـران مصر عـراق ترکو کښـې اونـه لیـده
دا رواجـي پـرده د لاسـو پښـو زنځیـر د ے زمـا
چې په تباه حال د پښتون مې نظر اوکړو پـه غـور
پښتونه ستا د تنزل اسباب تقصیر د ے زما (۷)

مونږ چې کله هم د دوي د شاعرۍ په حواله خبره کوو باید دهغه دور معروضي، ټـولنیز حـالات او واقعـات ترنظـره ونـه غورځوځکـه چـې پـه هغـه دورکښـې د محکومقـام ټـولنیزي خرابـۍ پـه معـروض موجـودې وې داهغـه دور وو چـې ددغـه نـاوړه رسـمونوروا جونواومحکومیت خـلاف د پښـتنو پـه خـاوره خـدائي

خدمتگار تحریک سرگرم عمل دے او د پښتونخوا گوټ گوټ ته د دوي پېغام رسېدلے او خپور شوے دے ـ په دغه حواله ښاغلے شاهجهان لیکي:

"د سیده بشرٰی بېگم عمر د اوو کالو وو چې د سرخپوشۍ تحریک ډېر په زور کښې وو او د سرخپوشو هرې جلسې ته دا د خپل نیکه سره تله او هم په دې کم عمر کښې ئې د ملک او قام سره مینه او د فېرنگي نه نفرت پېدا شو او بیا دا نفرت خو ئې تر لېوتتوب حد ته اورسېدو " (۸)

دښاغلي دشاهجهان دخبرې سره فقط دومره اختلاف کوم چې خدائي خدمتگارتحریک بنیاددچانه د په نفرت په بنیادنه ووکېښودلے شوے ـ ځکه چې دې خلکو د خپل وطن او خاورې د ازادۍ سوکالۍ او خوشحالۍ خبرهکوله او هم د دې تحریک په عدم تشدد او بشر دوستۍ یقین درلوده دوي خو نه نفرت خورو او نه ئې خوښوو ځکه چې د باچا خان او تحریک په نزد "د نفرت نه تشدد او او عدم تشدد نه محبت پېدا کېږي"د ښاغلي د الفاظو استعمال او انتخاب سره د اختلاف پوره پوره گنجائش موجود دے ـ د سرخپوشۍ تحریک د عملي کار سره سره په علمي او ادبي کار باندې هم زور اچولو ـ اول خو دوي خرابۍ په گوته کولې او بیا ئې د ختمولو کوشش هم کوو ځکه چې اول د مرض تشخیص او پېژندنه وشي نو بیا ئې هله علاج ممکن شي د دغه تحریک سره تړلو خلکو هم عمل کوو او هم لیک او د سیده بشرٰی بېگم د ژوند یوه یوه لمحه د قلمي او علمي مبارزې نشاندهي کوي، دوي په ډېر کم عمر کښې د لیک عمل پېل کړے وو په دغه حواله د ښاغلي افضل رضا دا څو کرښې قابل غور دي ـ

"د دولسو کالو په عمر کښې ئې اولنے مضمون په شریع بل ولیکو چې په ۱۹۳۵ع کښې په ازادپښتون کښې چاپ شو ـ په۱۹۳۷کښې ئې دپښتنو جینکو په بې وسۍ"نامراده جهان ارا"

افسانه ولیکله چې په افغان اخبار بمبۍ کښې په ۱۹۳۷ع کښې
چاپ شوه س-ب-ب د دې اخبار اعزازي مديره هم وه په دې
کښې به ئې هفته وار مضمونونه او شعرونه چاپ کېدل"(۹)

د دې اقتباس نه مونږ په دې نتيجه رسو چې د ښاغلې سيده بشرٰی بېګم د ليک بنياد د اول سره نه په ښځينه په مسائلو باندې ايښودلے شوے او د ښځو په حقله د دوي ليک ته مونږ د اوليت په صف کښې ځائے ورکولے شو د صنفي مسلو په حواله د دوي د شاعرۍ عمومي مزاج او (Approach) کله کله خو د خپل ځان له اړخه وي يعني خپله خبره ، موقف او دريځ وړاندې کوي ،کله ټول اولس ته مخاطب وي او کله کله يوې مخصوصې رشتې لکه پلار ، ورور، ښځې، لور ،خور او کله په يو علامتي انداز کښې د خپلو احساساتو ښکاره ګندونې کويلکه په خپل يو نظم "د پنجرې د مرغۍ ژړا" کښې وائي:

يمه بلبل جدا له ګل ځکه فرياد دے زما
د کور قفس کښې تمامي عمر برباد دے زما
يواځې زه يم په پنجره کښې بنديوانه ځکه
په ګلستان کښې د ازادو ځوګ په ياد دے زما
که د الوت شوق دامنګير په هر ساعت لرمه
فائده ترې هيڅ نشته په دې صورت برباد دے زما
حال د دنيا نه څه خبر نه يم چې څه دې په کښې
څلور ديواله کښې بندي ژړا ايجاد دے زما (۱۰)

دښاغلې سيده بشرٰی بېګم د شاعرۍ انداز او ژبه دومره خوږه او پسته ده چې د مخاطب په سماعتو او اعصابو باندې درنه نه لګي —دخپل مقصد خبره ډېره واضحه اوسپېڅلي اندازکښې کوي کومې چې د دوي فن اوهنرته ځلااوښکلا بخښلې ده دتورو او لفظونو په ځائے اوسم استعمال دهغوي دفن جمالي اتيارخه منه متاثره کوي لکه لوږه ، ژړا ، د پنجرې مرغۍ ، پنجره ، فرياد ، درد اوښکېاو د داسې نورو تورو استعمال دومره په فنکارانه انداز کوي چې د هغوي

د فن د معیار اندازه تري کیدلے شي ، او اکثر ځنې داسې قسم توري چې ډېر زیات ثقیل وي خو شاعرانه تړاو او پېوستون ئې په داسې سلیسه طریقه کوي چې شاعرانه مزاج ، مدعا او فکري مقاصدو ته زیان هم نه رسوي ۔چرته چې د دومره زړه غوځؤنکے حال وي د صنفي تیتوالي په بنیاد د پنجرې مرغۍ غوندې انسان بند ساتل کېږي او تړوله په تړوله د انساني صلاحیتونو لرلو باوجود څه عمل او کار کولو ته نه پرېښودل کېږي ، نو د یو باشعوره لیکوالې ښځې احساسات هم یو دغسې د درده ډک یو انقلابي شکل لري کوم چې مونږ د ښاغلې په شاعرۍ کښې وینو، ځکه چې په نوره دنیا کښې د ښځو د حقوقو او د هغوي د ارام ده او پرسکونه ژوند انساني مساواتو او تقدس دپاره هلې ځلې رواني وې او په دنیا کښې ښځې د دانسانیت ، شرافت ، راحت معراج او مقام تر لاسه کوي او په هند کښې عموماً او خصوصاً په پښتني ټولنې د ښځې د صنف په بنیاد استحصال کېږي نو دا واقعي قابل غورخبره ده لکه څنګه چې ورته ښاغلې سیده بشریٰ بېګم اشاره کوي:

مه ژاړه دلته کښې اوښکې تویول منع دي
د سرحد ښځو ته اخبار کتاب کتل منع دي
قومونه ټول که کوي قدر د بېدارو ښځو
زمونږ د قوم د زنانو ویښول منع دي
که د دنیا ښځې خدمت کوي د قوم و وطن
مونږ ته په کور کښې د مضمون شعر لیکل منع دي (۱۱)

اوي الکه په دې لاندې شعرونو کښې دخپلو احساساتو څومره ښکلې انځور ګري کوي

چې دخوېندو په تباه حالت نظر کړم
بې اختیاره له سترګوځي باران دزړه
پته خله لکه پتنګ په شمع سوځم

## دبلبـــل ژړاکـــړي دردعيـــان دزړه (۱۲)

په کومه ټولنه کښې چې د يو صنف وجود ښځي مفلوجه کړل شي او ژوند د هرې دندې نه بهر کړل شي نو بيا په هغه ټولنه کښې دغې عمل او څيزونو ته پام کول او په هغې باندې ډېر په ساده ، علمي او ادبي انداز کښې تنقيد کول يو پراخ او روښان فکره ذهن غواړي ۔ دد ډېرو مرهنارو اسلوک سره ټولنه او عمومي انساني ژوند د زوال ښکار شي او د قامونو وجود په ختمېدلو باندې شروع شي د دغه جمود ، جنگ ، جهالت او پسماندګۍ د ختمولو په حواله ښاغلې سيده بشرىٰ بېگم يو فکر او نظر درلوده ، ځکه چې د هغې په نظر کښې د ښځې وجود او او تشخص د ټولنې د ابادۍ ، څوکالۍ او بقا کښې يو بنيادي رول او ارزښت لري ۔ د دې خبرې نه څوک هم انکار نه شي کولے خو د مودو مودو نه په مذهبي ، کلتوري ، معاشي ،معاشرتي رياستي حواله او خصوصاً د نوابادياتو په دور کښې چې بنيادي انساني حقوق د پښو لاندې شي او په انسانانو باندې د ظلم ، جبر ، تشدد ، جنگ ، جمود او جهالت تورې تيارې خورې کړل شي نو د هغې په ضد خبره او مزاحمت کول په خپل ځائے يو انقلابي کار او عمل گڼلے شي ، او په دغه عمل او تناظر کښې ښاغلې سيده بشرىٰ بېگم هغه پښتنه ليکواله ده چې په ليک او شعر کښې ئې دې طرف ته خصوصي پاملرنه کړې ده ۔ ښاغلې سيده شـري بـېگم تـه مـونږ بـې د مبـالغې د شـلمې پېړۍ د سـر يـو تکـړه "Pashtoon Feminist Writer" وئيلے شو (البته په دې صف کښې په خصوصيت سره د الف جان ختکې نامه هم د هېرولو نه ده) ځکه چې د هغوي د فکر وفن په چوکاټ کښې دا موضوع ډېره واخحه او څرګنده ليدلے شي:

د الـوت هغـه وزر را چـې پـه گلـو پـرواز اوکـړم
د بندي مارغه په شان به کړم پنجره کښې شور تر څو
د هـر چـا دپـاره شـته دے پـه دنيـا ځـائے د ارام
په ژوندوني به دوزخ وي د پښتون دا کور تر څو (۱۳)

دپښتنو په کورني ژوند کښې واقعي ده چې تنه مدداسې مسائل شته چې ددوي کورنےژوندئې دومره بېتولېاوبېاندولہ کړے دے . چې نه صرف دوي ترې پخپله بلکې د دوي راتلونکے نسل هم متاثره کوي چې داپه ټولنيزه کچه ډېر خطرناک عمل دے ، ځکه چې هم دغه انسان ټولنه تشکيل کوي او د غه ټولنې ملکونه او رياستونه جوړوي ـهر کله چې په ټولنه کښې د بنياد نه خرابۍ ، بدمرغۍ ، پريشانۍ ، ذهني ، مالي ، فکري او نفسياتي مسلې د انسان سره لوئيږي نو په انساني ټولنه کښې خو بيا خرابۍ او بدمرغۍ او غير معتدله صورتحال خو بيا په فطري طور شتون لري، خو د فکر د لرونکيو خلکو دغسې مسلو ته نظر وي ځکه چې دغه ذاتي ، شخصي او ټولنيزي مسلې بيا يو پراخه ساحې ته ځي چې په نتيجه کښې ئې انساني ټولنه او انساني تقدس مات ،خراب او د جمود ښکار شي۔ چې کله ټولنې ته دغسې مرضونه ، ناروغۍ او بدۍ ننوځي او ورشره د شرم حيا او ناموس کيسه وتړل شي نو دا کار بيا ډېر مشکل شي په دغسې ټولنه کښې د فکر وفن شعروشاعرۍ خبره که هر څومره موثره وي خو عمل ته راوړل او دغه فکر مخ په وړاندې بوتلل ګران کار هم وي —په يوه پدرسري ټولنه کښې چې چرته هرڅه دواک و اختيار اوعن دژوند هره دنده دسړي په ذات اوطاقت پورې تړل شوې وي نوهغه کارونه چې ښځه ئې کوي او يائې کول غواړي نو بيا هغه يوناآشنا او لږ بدل غوندې عمل ګڼل کېږي ، او دغه مسلې زمونږ په ټولنيزې او ادبي دنيا کښې هم شتون لري لکه ښاغلے رحمت شاه سائل ورته داسې اشاره کوي :

"زمونږ په پښتنه ټولنه کښې که ښځه شاعره پېدا کېږي نو اول خو هغه دومره جرات نه شي کولے چې د خپلې شاعرۍ خبره اوکړي او که بيا دغه جرات وهم کړي نو بيا د کور کلي د پابندو سره سره د ټولنې د پابندو مخې ته ولاړه وي او د خپل هر شعر هر ټکے داسې په تنقيدي نظر ګوري او دا وېره هم وي چې سړے د سړو د ټولنې ازاد باشنده دے او ښځه د سړو د

تــــولنې يــــوه حيـــا داره او باوقـــاره قېـــدي ده "(۱۴)

په پښتنه ټولنه کښې دغه جمود ،د عدم مساواتو دا مضبوطه مفروضه او زولنې خدائي خدمتګار تحريک ماتې کړې او دا تحريک تر ډېر حده په دې کښې کامياب شوے هم وو –د دغه تحريک په کارکنانو کښې يوه داسې ستره نامه د سيده بشرٰی بېګم هم ده چې د ښځود حقوقو دپاره ئې علمي او قلمي توده مبارزه کوله، په ټولنيز ژوند کښې هسې هم د ښځې د وجود او تشخص سره ډېرې مسلې تړل شوي دي لکه د پېدائش چې څنګه جينۍ پېدا شي نو اکثر به د جينکو په پېدائش باندې د خفګان اظهار کېده ، او هغسې تربيت به ئې ونشو لکه څنګه چې پکار وي دغسې چې لويه شي نو د پردې او پلار ورور د حيا او غېرت زنځيرنو ور په پښو شي او چې بيا د ژوند ډېرې اهمې مرحلې واده کوېژدن وخت ئې راشي نو لکه د ځاروي ئې سړي ته حواله کړي ۔ عجيبه خبره خو دا ده چې کله هم دغه خلک ځاروے اخلي نو بيا ئې ښه ګوري چې په وجود روغ دے که نه ؟خو چې کله د جينۍ د ټول ژوند د ملګري انتخاب او فېصله کول وي نو هيڅ تپوس ترې نه کېږي ، هم دغې مسلې ته زمونږ دغه ليکوالې ښاغلې سيده بشرٰی بېګم په خپل يو کلام "د پښتنې لور ګيله" کښې داسې اشاره کړې:

مـا چې کـړه خپلـه مرضـي وقـف ستا د رضـا دپـاره
تــا قربــاني کړلــه زمــا خوشــي د چــا دپــاره ؟
دا د بے شـک چې مـور او پـلار وي مهربـان لـه هرچـا
ولــې بــې ســوچ مهــر دې شــه افــت زمــا دپــاره
د لـور او زوي پـه درد درد پـرې مـور او پـلار همېشـه
زمـا خـراب ژونـد بـه تکليـف شي اخـر ستا دپـاره
لکــه ځــاروے دې بــې تپوســه حوالــه کــړم د بــل
هــيڅ د ارام کوشــش مــې نــه کــړې د ســبا دپــاره
پښــتو د کفــر دے زنــار دا مشــهور متــل دے
د جينکــو خاموشــي وي د دے حيـــا دپـــاره

د دوو کسانو همخیالي وړومبے شرط دے ضرور
ګوری هر خیال ته خپل هم خیال د ژوند همرا دپاره
له ښو اخلاقو نه قربان شه د قارون خرانې
د دولتمند انتخاب مه کوئ د چا دپاره
دا د دوو کسو د ژوندون تړون دے داسې تړون
چې په هیڅ جوړ ترې خلاصیدے نه شي صبا د پاره(۱۵)

د ښاغلې سیده بشرٰی بېګم فکر ونظر دومره انفرادي او انقلابي دے چې ددغه مروجه ظلم زیاتي ته نه صرف اشاره کوي یعنې دغه مسله (Address) کوي هم او دغې مسلې په حواله خپله خبره هم کوي او حل ئې هم ښائي ځکه چې دا مسله اسانه نه ده دا دوو انسانانو د ټول عمر د تړون او ژوند خبره وي پکار ده چې دې مسله کښې اخلاقو خوئي بوئي د عمر او مالي مسلو ته و کتل شي ځکه چې دا رشته بغېر دتوازون نه شي چلېدلے ، دا د انساني ژوند او نسل د ارتقا او بقا سوال دے دا د انسان د جمالیاتي او جنسي تسکین د یو امتزاج نوم دے –چې کله هم د دې توازن خیال ونه ساتل شي نو بیا مسلې ارو مرو مخې ته راځي ، ښاغلې سیده بشرٰی بېګم په شاعرۍ کښې د ښځې وجود داسې تشکیل شوے چې یواځې د هغې د مادي ، پښتني ، کلتوري ، انساني بنیادي حقوقو د تعلیم وتربیت د ښځې د ازادۍ خوشحالۍ تصویر هم وړاندې کوي ۔ او دغسې د ژوند په هر کار او پړاو کښې ئې د ښځې وجود او کردار هم لازمي ګڼلے دے ، نو بل خوا د هغې د شاعرۍ لطیف اړخ ، د مینې ، ښکلا او ښائست د ژوند او جانان ذکر فکر په کښې هم ډېر په ښکلي انداز کښې وړاندې شوے دے د نمونې دپاره ئې دا دوه شعرونو د کتلو دي :

غلا غلتي په محبت کښې صفت نه دے
وایم زه چې عاشقي خلک په جار کړه(۱۶)

یا

زه بشــرٰی کـــه یــم لیلـــي خـــوئي د مجنـــون کـــړم
کـــه پـــه دې لارې روانـــې زنانـــه شـــي(۱۷)

په پورتني شعر کښې ځان ته ليلي وئيلاو خوئي د مجنون کول دا خبره په ډاګه کوي چې د مينې افاقي جذبه د انسان په ختمه کښې ابنکل شوې ده ، د ليلي مجنون خوئي کول او بيا د مجنون غوندې طرز محبت خپلول او هغه هم د ښځې دپاره دا خبره ثابتوي چې که سړے د مينې د حصول دپاره او د خپلې مينې اظهار کولے شي نو ښځې ئې هم کولے شي او د مينې دغه عالمګيره او افاقي جذبه صرف د سړي نه ده د ښځو هم ده او دغه جذبه د سړو سره سره ښځه هم لري، په مينه کښې ښاغلې د غلا غلتۍ قائله نه ده ځکه چې عشق او مينه نه پټېدونکې احساسات او جذبات دي دا خالص مخلص د ژوند نخښه ده او هم د ژوند ښکلا ارام، سکون او راحت دپاره ډېره محرکه او سپېڅلې جذبه ده او دا په يو جنس (gender)پورې تړل نه دي پکار دغسې د ښاغلې سيده بشرٰی بېګم ډېر نظمونه لکه محبت ، عشق، د عشق راز ، د زمانې رنګ ، قلم ته ، او دغسې ارزو نومې کلامونه ئې د لطيفو احساساتو شهکار نظمونه دي –د سيده بشرٰی بېګم په شاعرۍ کښې د ښځې د تشکيل کړے شوے وجود ، کردار او حدوحال داسې ښکارې چې د هرقسم صنفي امتياز نه په کښې خلاصه ده ، د ښځې دبنيادي انساني حقوقو او ورسره ورسره د مالي ، معاشي ، سماجي ، جمالياتي ذهني او فکري ازادۍ پوره مواد زمونږ تر سترګو کېدے شي ځکه چې د هغوي د کتاب نوم "زېرے" دے او دا د پښتون وطن د نورو مسلو سره سره د ښځې د کردار انساني ژوند د شرافت او خوشحالۍ ، ځوکالۍ هغه زېرے دے چې خپل مثال پخپله دے –

حوالې او اخذ ليکونه

(۱) بېګم، سيده بشرٰی، زېرے ، پېښور ،يونيورسټي بک ايجنسي، چاپ کال، ۱۹۵۶ع، مخ ، ۶/۵

(۲) هم دغه ، مخ ، ۶۰
(۳) هم دغه ، مخ ، ۱۲
(۴) هم دغه ، مخ ، ۱۱۵
(۵) هم دغه ، مخ ، هم دغه
(۶)هم دغه ، مخ ، ۱۱۶
(۷) هم دغه ، مخ ، ۱۱۸
(۸) شاه جهان، پښتو ادب کښې د مېرمنو برخه ، پېښور ، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي ، چاپ کال ، ۱۹۹۳ع ، مخ ، ۱۸۶
(۹) رضا ، پروفېسر افضل ، پڼځه شمعې ، پېښور ، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، چاپ کال، ۲۰۰۶ع ، مخ ، ۵۱
(۱۰) بېګم ، سيده بشرٰی ، زېرے ، مخ ، ۸۹
(۱۱) هم دغه ، مخ ، ۶۷
(۱۲)هم دغه ، مخ ، ۱۱۴
(۱۳) هم دغه ، مخ ، ۸۴
(۱۴)سائل، رحمت شاه ، د پښتو شاعرۍ ائينې ، پېښور ، عامر پرنټ اينډ پبلشرز، چاپ کال ، ۲۰۱۶، مخ ، ۲۵۷
(۱۵)بېګم ، سيده بشرٰی ، زېرے ، مخ ، ۱۱۷
(۱۶)هم دغه ، مخ ، ۷۴
(۱۷)هم دغه ، مخ ، ۱۲۲